# آیا د خپل شکایت په هکله مرستې ته اړتیا لری؟

## که تاسې د روغتیا یا د ټولنې د خدمتونو په هکله شکایت لری، مونږه دلته ستاسو د مرستې لپاره شته یو.

تاسې کولای شی چې د روغتیا او ټولنې د خدمتونو د شکایتونو کمیشنر(HCSCC) ته د جنوبي استرالیا د روغتیا یا د ټولنې د خدمتونو په هکله شکایت وکړي.

**ولې شکایت وکړئ؟**

شکایتونه داسې فرصت دی چې:

- خپل نظر ورکړی.
- خپلې اندیښنې حل کړی.
- خدمتونه د ټولو لپاره خوندي او لا ښه کړی.

هر څوک کولای شي چې د روغتیا او ټولنې د خدمتونو د شکایتونو کمیشنر(HCSCC) د جنوبي استرالیا د روغتیا یا د ټولنې د خدمتونو په هکله شکایت وکړي، د مثال په ډول:

د روغتیا خدمتونه:

- ډاکټران، نرسان، او نور د روغتیا اړوند مسلکي کسان؛
- روغتونونه او روغتیایي مرکزونه، د عصبي روغتیا د خدمتونو په شمول؛
- بدیل روغتیایي خدمتونه؛ او
- د مشورو خدمتونه.

د ټولنې خدمتونه:

- د معیوبینو خدمتونه چې د NDIS لخوا څخه نه وي.

په عمومي توګه (HCSCC) د هغه شکایت په هکله مرسته کولای شي چې یو شی تر دوه کاله پخوا پورې هم شوي وي.

مهرباني وکړی که تاسې په دې مطمئن نه یاست چې کوم ډول خدمت په (HCSCC) پورې اړه لري کنه نو له مونږ څخه پوښتنه وکړی.

**شکایت څرنګه کولای شم؟**

<u>لومړی ګام</u>

- لومړی باید همغه خدمت ته شکایت وکړی.
- د مشکل د پیدا څخه وروسته باید ژر تر ژره شکایت وکړی.
- داچې څه باید وشي چې هر څه سم شي په دې هکله فکر وکړی.
- که تاسې اړتیا لری چې هغه خدمت څخه ګټه پورته کړی پداسې حال کې چې ستاسې شکایت ځای نیسي، د هغه څه په هکله چې تاسې ورته اړتیا لری خبری ورسره وکړی.
- د ټولو بحثونو او خطونو یو نقل له ځان سره وساتئ.
- د همغه خدمت د وارندی کوونکي څخه پوښتنه وکړی چې ستاسې د شکایت په هکله ځواب درکړي چې څه کوي – تاسې ته باید په ۳۰ ورځو کې ځواب درکړي.

دوهم ګام

که تاسي خپل شکایت د همغه خدمت دوراندي کوونکي سره نشئ حل کولای، مهرباني وکړی او د HCSCC سره اړیکه ونیسی.

مونږ به:
•ستاسي خبرې واورو
•معلومات درکړو او د نورو لارو چارو په هکله خبرې درسره وکړو؛
•او ستاسي شکایت ته د ځواب ورکولو په هکله مرسته درسره وکړو.

**بیا به څه کیږي؟**

کمیشنر کولای شي چي پریکړه وکړي چي ستاسي شکایت نورو لوړو مقاماتو ته یوسي.

د روغتیا او ټولني د خدمتونو د شکایتونو کمیشنر(HCSCC):
•د روغتیا یا ټولني د خدمتونو په هکله شکایت کولو کي ستاسو د حق ملاتړ وکړي؛
•بې پرې دی او د چا پلوي نکوي؛
•وړیا دی او شدیداً راز دار دی؛
•ددې لپاره کار کوي چي شکایتونه د خدمتونو د کیفیت او خوندیتوب د لا ښه توب لپاره وکارول شي.

•هغه څه چي (HCSCC) يي نشي کولای:
•د هغو شکایتونو په اړه چي د کور ورکولو، د خوراکي توکیو مشکلات، د کار موندلو موضوعات او د محکمو د پریکړو په هکله دي.
•د (HCSCC) به تاسي هغه چاته راجع کړي چي کولای شي ددي شکایتونو د حل کولو لپاره کار کوي.

**د HCSCC په هکله معلومات**

د روغتیا او ټولني د خدمتونو د شکایتونو کمیشنر کولای شي چي په جنوبي استرالیا کي د روغتیا او ټولني د خدمتونو په هکله ستاسو د شکایت په اړوند تاسي سره مرسته کولای شي.

مونږ په مستقل، بې پلوی، د عامه خلکو په ګټه او په وړیا توګه عمل کوو.

**د HCSCC سره خبرې وکړی**

تیلیفون: 8666 8226 (08) یا 007 232 1800 ( دجنوبي استرالیا د اطراف لیني تیلیفون)
تیلیتایپ (TTY): 677 133 یا 677 555 1800( دجنوبي استرالیا د اطراف لیني تیلیفون)
ایمیل: info@hcscc.sa.gov.au
لیک: PO Box 199, Rundle Mall SA 5000
ویب پاڼه: www.hcscc.sa.gov.au
پته: Level 4 East Wing, 50 Grenfell Street, Adelaide SA 5000
کاري ساعتونه: دوشنبه – جمعې: د سهار له ۹ بجو څخه د مازدیګر تر ۵ بجو (شنبه / یکشنبه: بند)